Paschto

# عیسوي افراطیت

## لنډ معلومات

KURZ-INFOS

د مذهبي او نړیوال لړلید د مسئلو اړوند د
کاتولیک او پروتیستانټ استازو پروژه

Evangelische Zentralstelle
für Weltanschauungsfragen

## عیسوي افراطیت

دا رساله د مسیحی ایمان په افراطي لوري په اړه تاسو ته معلومات ورکوي چې "عیسوي افراطیت" بلل کیږي چې په آلمان کې یوازې د عیسویانو یو کوچنی اقلیت له خوا استازیتوب کوي. د دې لپاره چې په دې اړه تاسو ته معلومات په سمه توګه طبقه بندی شي، تاسو باید په جرمني کې د دینونو رول پوه شي، چه:
په آلمان کې د دري حصو نه دوه حصې د یو دیني ټولنې سره اړیکی لري. د دوي اکثریت د دوو سترو عیسوي کلیساو غړي دی: د روم د کاتولیک او ایفنګیلیک کلیسا نومیږي. پرته له دی نه تقریبا ۵٪ مسلمانان دي چې جرمني ته د مهاجرت په توګه په تیرو دوه نسلونو کښې راغلی دی. د خلکو یو ۱٪ څخه کم عیسوي بنسټپان دی. د هغوی زیات شمېر د شخصی کلیساو سره اړیکي لري او د لویو کلیساو نه لیري دي. دوی زیاتره د ځان، د کډوالو او مهاجرینوو په منځ کې د خپل د عقیدي تبلیغ کوي.

### مذهبي ازادئ معنا: د ډېرو ډلو سیالئ

په جرمني کې، د مذهب آزادي شته. ټول مذهبي ټولنې کولای شي خپل د مذهبي عقیدي په عملي توګه تر هغه وخته چې د دولت د قوانینو په چوکات کی وي وده او تبلیغ ورکړي. نو ځکه د لویو مذهبونو نه سوا ډیری کوچنیو ډلی هم خپل په تبلیغ بوخت دي. د دغو ټولنو یو شمېر کسان د خپل د عقیدي او روزمره ژوند په هکله برابره معلومات ورکوی. هغوی خپل تر منځ او د لویو کلیساو سره تړاو لري. تر اوسه د نورو هېوادونو او کلتورونو خلک د دوي د ایمان به اړه معلومات نه لري. خو یو شمېر عیسوي ډلې هم د ځپل ترمنځ او د نورو عیسویانو سره ستونځی لري.

ولی؟

- دوی د آلمان د ټولنې د ارزښتونه باندي اعتنا نه لری. د مثال به توګه، دوي د ښځو او نارینو د برابر حقوق په هکله موافق نه دي. او یا د خپلوغړو د آزادي نه مانع کیږی او نه یی پریږدي چی ووځي.

- هغوی د لویو کلیساو او خپل منځ کې د مسیحی ایمان په اړه استدلال کوي. د مثال په توګه، دوی وايي، چې لویه کلیسا د انجیل په معنی غلط پوه شوي دي. یو شمېر یی وايي چې مونږ اصلی عیسویان یو. داسې ډلی تل د ځان په هکله معلومات نه ورکوي. هغوی د خلکو د زړونو د لاس راوړلو په خاطر خپلی شخړي پتوي.

## عیسوي افراطیت: څه شی دي؟

عیسوي افراطیت بنسټ په دې باور دي چې انجیل، د مسیحیانو کتاب، د اخلاقو، ساینس او سیاست کې د ټولو موضوعاتو په اړه بیخي رښتیا ځوابونه ورکوي. افراطي خلکو وايي، هغوی د انجیل مقدس نه د خپل هېواد، د حق د دولت د قوانینو، د کورنۍ د مناسب ژوند د اصولو، د حق د ساینس او داسې د حق د پالیسۍ په ښه توګه استعمالوي. اکثره مسیحیانو د انجیل کتاب په دی حساب نه پوهیږی. د هغوی لپاره، انجیل د ایمان بنسټ او تهداب دي. له دوي له نظره دا یوه درسي کتاب نه دي چې د هغوی لپاره د نړۍ په هکله هر ډول پوښتنو ته ځواب ورکړي. عیسوي افراطیت ، یوه سیاسي تحریک دي، ځکه افراطیت هڅه کوي چې د دولت او ټولنې ته هغه څه چې د کلام پر اصولو او د خدای د ارادې له مخې په ښان، بڼه ورکړي. هغوی همدارنګه بل ساینس او علوم غواړي. تقریبا د ټولو لپاره د مثال په توګه له طبیعي علومو، په ځانګړې توګه د تکامل نظریه رد کوي. زیاتره افراطي خلکو هم ادعا کوي، چې د انسانانو په واسطه د اقلیم د بدلون نه دی راغلی. یو شمیر کسان د خپلو ماشومانو د دولتي ښوونځیو کی ګډون منع کوی او په دی باور دی چی هلته اخلاقی تدریس موجود نه دي. د هغوي دینی او عقیدوي باور احترام نه کیږي.
په جرمني کې د دولت په وړاندې د افراطیت مبارزه کوم مهم رول نه لري، ځکه چې دوي یو کوچنی اقلیت دي. په عمومي توګه دوي تعرض نه شی کولای. دوي خپل د ځان سره بوخت دي او د نورو سره اړیکي نه لري. په متحده ایالاتو کې، وضعه بل راز ده. هلته د عیسوي افراطیت په سیاست کې مهم رول لري.

## افراطيت کلمه له کوم ځاي نه راغلي ده؟

له ۱۹۱۰ نه تر ۱۹۱۵ په امريکا کی یو شمیر ليکنونه مخ ته راغلل چي سرلیک يی :
"The Fundamentals – a Testimony to the Truth" چاپ شوی وو. دا په دې معنا چې په پشتو "د افراطيت ـــ د حق يوه عيني شاهد". دغو ليکنو د محافظه کارو پروتستانو چې د خپل دين د تجزيه وېره يی درلودل له خوا ليکل شوي وو. ميليونونو خلکو ولوستل چي په نتيجه کې يي "د افراطيت" کلمه پيدا شوه. له همدې امله، د عيسوي افراطيت کله چې په حقيقت کې وګوري د "پروټسټنټ افراطيت" په پام کې دي. په دې پاڼه، موږ اوس هم د عيسوي افراطيت په عمومي ډول خبري کوو.

## افراطيت: یو مشکل کلمه

که تاسو غواړی چې په عيسوي افراطيت پوه شي، د درېو ستونزو سره مخامخ کيږي:

- نه يوازې په پروتستانوکی سخت دريزه د افراطيت په نامه ياديږي، د هندوانو، مسلمانانو او يهودانو په منځ کی هم پيدا کيږي. برعکس کاتوليک او ارتودوکسو مسيحيان هم موجود دي چې څوک يی افراطي نه بولي. دا مغشوش کونکی ده. له همدې امله له دی رسالی نه معلوميږی چي د عيسوي افراطيت شروع په امريکا کې وو.

- کله افراطيت، تعصب او تروريزم کلمی نه داسی کار اخستيل کيږي لکه تول يو معنا ولري چي دا سمه نه ده. که څه هم عيسوي افراطيان زياتره متعصب دي، خو اکثر يی د زور د اخستيلو مخالف دی. دوي تروريستي بريدونه سر ته نه رسوي.

- عيسوي افراطيت عامه عقيده لري، خو عامه سازمان نه لري. دوی کومه کليسا نه ده، خو يو حرکت دي. دوی روحاني مشر نه لري چی وپيژندل شي. نو ځکه ځيني يی کم او ځينی يی سرسخته مسيحيان دي. د پروټستانو مسيحيانو تر منځ هم معتدله او هم بنسټ پال موجود دی.

زياتره بنسټپال د جرمني په ټولنه کې د خپل افراطي عقيدو سره په نامعلومه توګه ژوند کوي.

عيسوي افراطيت په جرمنی او په نړيوالوکچه کی فعاليت لری چي د (دربيستان) په نو يادېږي. دوی د برتانوي جان نيلسن سره سرمنشا لری. افراطيت "بند ورونه" چې په انګليسي ژبه کي "Exclusive Brethren" نوميږی. د ک ف ګ کنفرانس کی هم دوی هم استازي لري. خو ک ف ګ يو عليحده سازمان دي. د هغي ټولنې خودمختار دي.

## آيا انجيل يوازې د قانون کتاب دی؟

څنګه چې د عيسوي افراطيت ۱۰۰ کاله مخکې په متحده اياﻻتو کې پيدا شو، دير خلک په داسی باور و چي داسي و چي ساينس او تکنالوژی به دين ناچله کړي. زيات شمېر مسيحيانو دفاعي جبهه جوړه کړل. ځينی په دی باور و چي يوازي انجيل په اثبات رسولی شی چی عقل او علوم څه معنا لري. د ۱۹۷۸ کال د يو افراطی اسنادو چی د شيکاګو د اعالميي په اساس نقل شو چی انجيل هيڅ نوعه خطا او غلطی نه لري . دا يوازې د انجيل ، خدای او عيسی مسيح په رابطه نه دي: "په خلقت کې د خدای د اعمالو، د نړۍ د تاريخ په هکله وايي:" د تطبيق وړ دي. په دې توګه انجيل يو بيخې رښتيا تدريس او اصولو ته يو کتاب ده.
مسيحيانو چې دوی افراطيت ته باور نلري او افراطي نه دي، د انجيل مقدس نه د تدريس او اصولو کتاب نه وايي. مقدس کتاب مونږ ته د هغه څه چې خدای پاک کار کړی دي او نن هم کوي، خبري کوي. تر ټولو باندې، دا د عيسی مسيح کيسه بيانوي. يو څوک د انجيل کتاب په باری کي غلطی کوي، که دا يو د تدريس او اصولو ته او کله چې د ساينس په وړاندې يې وکاروي. مسيحيان دا آزادي لری چې د پاليسۍ، قانون او اخلاقو موضوعاتو په پريکړو کې خپل وجدان او د هغوی د دليل له مخې تصميم ونيسي. د علومو په باری کي مسيحيان آزادی لري، په نړی کی تحقيق وکي. يوازي خدای دی چی د مسيحيانو په نظر بی عيب دي. د بشر پوهي معصوم نه دي، حتا چې د مقدس کتاب هم سند رامخه کړي. له دې امله زيات شمېر مسيحيانو د خپلو کليسا د دود په چوکات وساتي. دوي باور لري چې دا دود د انجيل په سمه توګه د

هغوی لپاره تفسیر کوي. دوي نه غواړی چی یوازی د یوه دولت د پالیسۍ ګوته کړي، او دوی نه غواړي په ساینس مسایلو باندي استدلال وکړي.

## په جرمني کې د افراطیت ستونزې کومې دي؟

- افراطي مسیحیانو په جرمني کې د خلکو د اکثریت څخه ګوښه ژوند کوي، حتی د نورو عیسویانو اکثریت نه هم جدا دي.

- افراطي خلک علاقه نه لري، چې له نورو خلکو سره چې یو مختلف باور ولري، هغوي سره مفاهمه وکي. دوی غواړی چي یو سرحد وتاکي. په دی ډول، د هغوي تولني دا توانایی او قدرت نلري چی د نورو سره خبری او مرکي وکړي.

- که تماسونه اخیستل کیږی، اکثره په تبلیغي ډول د عقایدو په اړه پیښیږي.

- په دیرو افراطِي ټولنو کي شخړو پیدا کیږی، څکه چي کوشش او هڅه کیږي چی د هر پښتنی په څواب، د انجیل سره ځواب راپیداکړی، هغه ځواب چی په بل ټوګه راپیدانشي.

- ځینو مسیحیانو په دی باور دي چي انجیل کتاب، د مقررات او د ژوند د نظم پیداکولو په اساس یو ښه قاعده او قانون لری.

## څنګه چلند باید وشي؟

یو باید پوه شي چې ټولو ادیانو ښايي په عامه سړکونو اعلامیه خپره کولای شي. زیاتره د انټرنټ سره اعلامیه خپره کړي. مذهبي ډلو ته اجازه نشته چې د کډوالو په مرکزونو او یا د استوګنې په کورونو کې له اجازې پرته د ځای اعلامیه خپره کړي. کېدای شي چې بی رابلنی نه دوی خصوصي کورونه یا اپارتمانونو ته ننوځي. هغوي نشي کولای چې ماشومانو ته تبلیغ وکړی پرته د مور او پلار د اجازه نه. که څه پیښ شي، تاسو هم له مبلغین سره استدلال مکوي. تاسو تعرضي حرکات مکوي. د کور او یا استوکني د محل مسوولین خبر کړي. که تاسو په دي اړه کي دلچسپي ونلري او د ملاقاتو سره موافق نه وی، نو مودبانه يې رد کړی. که تاسو غواړې چې د یوې ډلې سره مینه وکي او یا که تاسو د مسیحی ایمان په اړه دلچسپی ولري، نو باید معلومات لاس ته راوړی، چې آیا دا ډلې د خپل چاپیریال سره تماس لري، او یا په انزوا ډول ده او یا که په د خلکو سره په یوه شخړه کې په خپل چاپیریال کې ژوند کوی او یا اړیکې لري. د پروټسټنټ او کاتولیک کلیسا په جرمني کې په هر ځای شته او تاسو کولای شی چی تماس ونیسي. تاسې کولای شی چي د مثال په توګه، د انټرنیټ، الفاظ "Flüchtlingshilfe" (د مهاجرو مرستې)، "evangelisch" (پروتستان) او یا "katholisch" (کاتولیک) خپل د اوسیدونکي ښار د نوم سره ولیکي. تاسو ته په هغه ځای کي چي ژوند کوي د مذهبي مرکزونو معلومات لاسه ته راشي.

**خپروونکی** خپور شوی په سره کې د روم د کاتولیک په
د آلمان او د مذهبونو د ایالتي استازی په کنفرانس کې او
د عقائدي مسایل د مشرانو او استازو په کنفرانس کې د
همکارۍ خپور له خوا. لیکوال: ډاکټر هانسجورج همینګر
Dr. Hansjörg Hemminger


**لیکوال** Dr. Hansjörg Hemminger

**ترجمه** USG Übersetzungs-Service AG
3063 Ittigen (Schweiz)



**Evangelische Zentralstelle für Weltanschauungsfragen (EZW)**
Auguststraße 80 · 10117 Berlin
Tel. (030) 2 83 95-211 · Fax (030) 2 83 95-212
E-Mail: info@ezw-berlin.de
www.ezw-berlin.de



**EZW-Spendenkonto**
Evangelische Bank eG · BIC GENODEF1EK1
IBAN DE37 5206 0410 0106 4028 10